خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها

ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

## ایا تاسو د یو افغان ماشوم پالنه په داسې حال کې کوې چې د هغه قانونی مور او پلار نه یاست؟

**که د ماشوم د پاللو داسې قانوني اسناد ونلرئ چې څرګنده کړي چې تاسو د ماشوم د پالنې صلاحیت لرئ،ښایې تاسو ونشئ کولای چې د دوی اړتیاوې په بشپړه توګه پوره کړئ.**

## اندېښنه مه کوئ، په دې هکله مرسته شتون لري.

### په امریکا کې قانوني سرپرست څه ته ویل کیږي؟

د دې ستونزو د حل لپاره ستاسو سره د مرستې لارې شتون لري. یوه لاره د **قانوني سرپرستۍ** په نوم یادیږي. دا هغه کس ته ویل کیږي چې د ماشوم والدین د نشتون پر وخت د اقدام کولو او د هغه لپاره مهمې پریکړې کولو صلاحیت لري. دوی کولی شي د ماشوم سره په مختلفو چارو کې لکه په ښوونځي کې د ماشوم شاملول، د ماشوم اړوند صحی تصمیم نیول، د ماشوم لپاره بانکي حساب خلاصول، او د هیواد څخه بهر د ماشوم سره سفر کول کې مرسته وکړي. نور معلومات دلته تر لاسه کړئ.

### ایا قانوني سرپرستي به د تل لپاره ما د ماشوم مور یا هم پلار کړي؟

نه. که تاسو د ماشوم سرپرست شی، د ماشوم مور او پلار به خپل حقوق د لاسه ورنکړي، او تاسو کولی شئ په لنډمهاله توګه د هغوی قانوني سرپرست واوسئ.

### څوک په دې اړه مرسته کولی شي؟

موږ ته په دې پته ILSAAinfo@icf.com بریښنالیک یا ایمیل واستوئ ترڅو ستاسو سره په دې اړه مرسته وکړو چې کوم انتخاب ستاسو او د دغې پروسې د راتلونکو مراحلو لپاره غوره دی. هر ایالت خپل مختلف قوانین لري، او زموږ ټیم کولی شي داسې وکیلان در وپیژني کوم چې په متحده ایالاتو کې د دې پروسو په برخه کې مرسته کولی شي. موږ ته ایمیل وکړئ ترڅو د اضافي مرستې څخه برخمن شئ.

**دا د بی سرپرسته افغان ماشومانو لپاره عادي خبره ده چې په امریکا کې د داسې یو کس سره ووسیږي چې هغه یې مور یا پلار نه وي.**

### زه څنګه کولی شم چې د قانوني سرپرستۍ غوښتنه وکړم؟

تاسو باید په هغه ایالت کې درخواست وکړئ چیرې چې تاسو او یا ماشوم ژوند کوي. هر ایالت مختلفې پروسې لري. په دې پروسه کې معمولاً د غوښتنلیک وړاندې کول، اړین اسناد، او د فیس ورکول شامل وي.

### ایا نورې د حل لارې هم شته؟

**هو، دوې نورې لارې هم شته:**

- تاسو کولی شئ د ماشوم لپاره د وکالت خط غوښتنه وکړئ. دا یو قانوني سند دی چې یو یا د یو نه زیات اشخاصو ته ته د یو چا په استازیتوب د تصمیم نیولو لپاره ورکول کېږي.
- تاسو کولی شئ د ماشوم د ساتلو لپاره غوښتنه وکړئ. د کورنۍ محکمې قاضي ښایي د ماشوم د ساتنې اجازه ورکړي ، کوم چې یو کس ته دا واک ورکوي چې ماشوم د هغه فزیکي پاملرنې لاندې راشي او د ماشوم لپاره د ژوند مهم تصمیمونه ونیسي.

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادی سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره د حقوقی خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.

USCRI